
د هیلۍ
ژوند
Ketabton.com
ناول
لیکواله: فوزیه ارزو
ډیزاینر: سیدادریس سادات
0731363201

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هيلې ژوند

فوزیه ارزو

۲۰۲۴ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د کتاب پېژندنه!**

---

**نوم.** **د هیلې ژوند**

**لیکواله.** **فوزیه ارزو**

**ډیزاین.** **سید ادریس سادات**

**کمپوز.** **سیدادریس سادات**

**د لیکوالې شماره.** **003378294943**

**د سادات شماره.** **0731363201**

**چینل.** https://youtube.com/@Sadattv1?si=e-gtjdwd2kXMAmKv

**واټساپ ګروپ.** https://chat.whatsapp.com/KXxowf0dlHRDKRmRR1QHSz

**که چیرې تاسې هم د کتاب په هکله مشورې ته اړتیا لرئ، یا هم غواړئ، خپل کتاب په پې ډې بڼه نشر کړئ، نو له موږ سره په لاندې شمارو رابطه وکړئ.**

**0731363201**

**AS**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

## دا کتاب دې زما خوږ پلار جان او خوږې مور جانې ته ډالۍ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سريزه:

**د شپې وخت و، موبايل مې وشرنگيد، پورته مې کړ پر واټساپ درې پيغامونه راغلي وو.**

**او ليکلي يې وو:**

**اسلام عليکم!**

**تاسې سادات صاحب ياست؟**

**ما ورته وليکل:**

**وعليکم سلام هو مهرباني وکړئ، ويې ويل:**

**سادات صاحب يو ناول مې ليکلی دی، که تاسې يې راته له نظره تېر کړئ، او غلطيانې يې راپه گوته کړئ.**

**نو ډېره زياته خوشحاله به شم.**

**ما ورته وليکل:**

**ولې نه په دواړو سترگو!**

**ناول يې راوليږه، ناول چې مې ولوست.**

**واقعا جذاب وو، او يوه دقيقه يې هم له ځانه بل خوا پرينخودم.**

**خوند يې راکړ، انجلۍ ته مې وويل:**

**دغه ناول درته زه نشروم، دا زما ډېر خوښ شو، انشاالله د پښتو ادب کې به يوه نوې کيسه وي.**

**چې تاسې به تر اوسه نه وي لوستې، نو زه مو د ناول په لوستلو کې خنډ نه جوړيږم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځئ، او ناول راسره ولولئ،

خو ها دا چې دا کتاب ما تاسې ته نشر کړ، نو تاسې يې په بدل کې زما يوټيوب چينل چې په هغې کې هم درته لنډې کيسې نشروم، سبسکرايب کړئ.

او ښکلې کيسې پکې وګورئ، د چينل لينک!

https://youtube.com/@Sadattv1?si=e-gtjdwd2kXMAmKv

د ننګرهار ملي راډيو کارمند

سيدادريس سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پیل

وړه کوږنۍ مې وه، مور پلار خویندې او ورونه!

یوه خور مې واده شوې وه، وار زما وو لسم ټولګي کې وم.

زده کړو سره مې بې حده ډېره مینه وه، له اوله ترلسم ټولګي پورې اول نمره وم.

ژوند کې مې یواځې یوه هیله وه، چې زده کړې وکړم.

پرمختګ وکړم او د خپلې ټولنې خدمتګاره شم، ښوونځي تازه پیل شوي وو. دا چې زه درسونو کې لایقه وم، نو درسونه هم راته هیڅ مشکله نه وو.

درسونو سره سره مې کور کارهم کاوه او د شپې مطالعه مې زیاته کوله، هرډول کتابونه مې لوستل، دا چې مانه مشران مې ورور نه وو.

نوځکه ضرورت لپاره مې کوږنۍ کور لپاره موبایل اخیستی وو.

خپلو خپلوانو سره د خبرو کولو لپاره دا چې موږ پاکستان کې وو او زیاتره خپلوان موافغانستان کې!

نو ځکه به زنګ باندي مصرف زیات راته، نو کوږنۍ مې موبایل کي فیسبوک اوواتساف هم خلاص کړي وو.

نو مابه هم همیشه کتابونه پکي ډانلوډ کول، کله به مي معلومات ویل!

خوهیڅکله مې پردیو سره پکې خبره یا مسج نه وو کړی.

همداسي وخت تېرېده، یووخت د کورنیو ستونزو لامله ډېره خفه وم.

نو ستوري مي ورکړه مسنجر کې شپې مې درسونه ویل، چې موبایل کې د مسج غږ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د هيلې ژوند**

---

**ومي کته زماپه ستوري زياتو خپلوانو مي نظرونه ورکړي وو، هغو کې يوپردي هلک هم يونظر ورکړی و.**

**و ليکلي وو، چې مه خفه کېږه هره ستونزه يوه حل لاره لري.**

**ماهم ورته خاص پاملرنه ونه کړه، موبايل مي بند کړ.**

**دا چې ناوخته وو نوويده شوم، په سبا يې هم داسې د نورو ورځو په څېر ښوونځی، کار او بيا شپه شوه.**

**موبايل مي رپورته کړ، غوښتل مي فيسبوک وګورم، چي څه پکي نوي راغلي دي؟**

**چې ومې کوت، مسنجر کې بياهم هغه هلک لخوا مسج شوی وو، ليکلي يې وو.**

**سلام!**

**څنګه ياست!**

**هيله لرم ستونزه موحل شوې وي.**

**دا چې زموږ ايډي د هلک په نوم وه، نوماهم بل فکر ونه کړ.**

**يوځل مې همداسي پرېښوده خونه پوهيږم ولې مي بيرته ځواب ورکړ، ومي ليکل!**

**ع سلام!**

**ښه يو شکر ستاسو دروغ صحت په هيله!**

**هوحل شوه مننه!**

**وروسته فيسبوک ته ولاړم، هلته د يوناول په ويلو بوخته شوم.**

**چي مسج راغی، ومې کوت هم هغه هلک وو ليکلي وو:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ـد مننې لپاره څه نشته، دا مو دنده ده شکر پخیر حل شوې.**

**ځواب مي ورنه کړ یواځي مي مسج ورته لایک کړ، لږه شیبه ووته بیا مسج راغی، لیکلي يې وه.**

**ـزمانوم شاهد دی، افغانی یم خوپاکستانکې ـــــبنار کي اوسیږم**

**کولای شم ستاسو په اړه پوهه شم؟**

**حیرانه شوم، چې دا هلک څنګه دومره مسجونه کوي، خو بیا مې هم ځواب ورنه کړ، لږه شیبه وروسته بل مسج راغی.**

**ـزماغوښتنه غلطه وه؟**

**پوهه شوم دا په دومره اسانی نه شاته کیږي، نو ځواب مي ورکړ:**

**نه غلطه نه وه خوشاله شوم، د پیژندلو مو زه هم افغانی یم، پاکستان کې اوسېږم هغه ځواب راکه!**

**ـنوم مو ؟**

**دا چې زه نجلی وم، ایډي د هلک په نوم وه .**

**نو هیڅ مي ورته ونه ویل:**

**لږه شیبه وروسته بل مسج راغی، ستاسو نوم څه دی؟**

**ـومي لیکل بې نومه !**

**د خندا سټیکر يې ولېږه وایي:**

**پوهه شوم د دې امله نه وایاست، چې نوم مو ښایسته دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له نظره به يي کړم، خو ژمنه کوم ماشالله ورسره وايم، اوس کولی شی نوم مو راته وښاياست؟**

**ورته ومي ليکل فکر کوم ما اوتا هيڅ نه پيژنؤ، نو د دومره ټينګار لامل مو؟**

**هغه: هيڅ لامل نه لري، زه هم کله کله ډير خفه اوسم، د ستونزو له امله نو ځکه مې وغوښتل ملګري واوسو.**

**زه: ایاملګرتیا یواځې د ستونزو اوخفګان له امله کیږي؟**

**هغه: نه خوهغه وخت یوبل ډير ښه درک کولای شي.**

**زه: پوهه شوم خواوس ناوخته دی، باید ویده شم.**

**تر بیا مخته ښه!**

**هغه: يعني زماملګرتيا نه قبلوې؟**

**خوخير دا اوس لپاره مننه چي دومره وخت موراکړ، ماهم ورنه هيله وکړه داچې موبايل مې د کورنۍ وو، نو ټول مسجونه مي ډيليټ کړه!**

**چې هسې نه ستونزه راته جوړه نکړي او ويده شوم، همداسي دوې ورځې تيرې شوې. هيڅ مسج ونشو دريمه شپه بيامسج راغی.**

**سلام !**

**څنګه ياست ښاغلی بې نومه!**

**ځان سره مې په بې نومه وخندل او لږ حيرانه هم وم.**

**چي داولې دومره شله دی، ځان سره به مي ويل ځواب ورکړم.**

**که نه!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به مي هو ويل کله نه چي بل مسج راغی.

هغه: تاسو لکه چي نوم اخيستلو سره حساسيت لري، که څنګه!

ومي ليکل:

کله چې دومره پوهيږۍ نوبيا ولې دومره شله ياست؟

هغه: سمه ده، زه هم نور په بې نومه درته وايم.

ځان سره مي فکر وکړ، چي دا خو د نورو خبرو نيت هم لري، که کورنۍ مي پوهه شي يامسج وګوري نو کيدای شي بل فکروکړي.

نو پريکړه مې وکړه، چي ورته هرڅه ووايم.

تر څو نور مزاهيمت ونه کړي.

نوومي ليکل:

غواړم يوڅه درته ووايم، خوهيله لرم چې سم پوهه شئ.

هغه :مهرباني وکړئ.

زه: اصل کې زه نجلۍ يم، دا موبايل مې هم د کورنۍ موبايل دی.

زه يواځې د کتاب يا ضرورت لپاره ورنه کار اخلم، نوتاسو نه هم هيله لرم، نور پوهه شوي ياست، چي زما د نوم نه ويلو لامل څه دی؟

هغه څو د حيرانتيا ستيکرونه  وليږل.

وي ليکل:

زه هم لږ شکمن وم چي نوم ويلو کي څه ستونزه کيدای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو نه پوهیږم، ماته ولې داسي ښکاره شوه، لکه هغه چي هیڅ حیران نه شو لکه هغه چې پوهیده زه نجلۍ یم.**

**په هرحال ورته مي ولیکل:**

**زه :اوس خوپوهه شوي نوهیله لرم نور مسج ونه کړئ، ځکه چې دا کورنی موبایل دی.**

**همدي سره می موبایل بندکړ.**

**او ویده شوم، څوورځي تیرې شوې هیڅ مسج را نه غی، د هغه لخوا زه هم خوشاله شوم.**

**چي نور مزاهیمت نکوي، څلورمه شپه لس بجي یې بیا مسج ولیږه...**

**سلام یي لیکلي وو.**

**ماهم بغیر بغیرله دې چې ځواب ورکړم ډیلیټ مې کړ لږه شیبه وروسته مسج راغی ډیر اوږد وو یې لیکلي وو.**

**هغه : پوهیږم تاسو به اوس فکرکوئ، چې اوس پوهه شوې ولي بیامسج کوې؟**

**خوما دا څو ورځې فکر وکړ چې نور به مسج نکوم، خو تاسو ډیره ښه انسانه یاست! ستاسې لیکني او سټوریانې زما ډیرې خوښېدلې هغه وخت مي فکر هم نه وو کړی، چې تاسې به نجلۍ یاست، غوښتل مې ملګري واوسو!**

**خوچې تاسو سره مي خبري وشوي باور وکړه، ډیر خوشاله شوم.**

**چې یوملګری مي پیداکړ او بیاتاسو ویل چي نجلۍ یاست.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ماته هیڅ توپیر نکوي، باور وکړه یواځې غواړم کله کله چې مې ژوند سختېده داسې چاسره خبري وکړم، چې درک مي کړي،

نور هیڅ غوښتنه نه لرم هیله کوم داومنئ-

ډیره حیرانه شوم، ډول ډول فکرونه مي وکړه.

نه پوهیږم ولي مي وربانديِ زړه خوږېده، شاید د انسانیت له امله وو خوبل پلوه ویره وه چې که کورنۍ مي پوهه شي چې زه یوپردي هلک سره خبري کوم نو څه به راسره وکړي همدي فکرکي وم، چې بل مسج راغی!

پوهیژم تاسې به اوس څه فکر کوي خوباور وکړه زما لخوا به هیڅ ستونزه درته جوړه نشي یواځي کله کله مسج کوم، او بس!

حیرانه وم، چې څه ځواب ورکړم.

او بل دا چې هغه یواځې کله کله د څوخبرو غوښتنه کوله ماویل هسي هم لیکني لیکم څه خبره ده.

له ده سره به د ستونزو وخت کې مرسته کوم، خوزماپه نظر ټوله مجازي نړۍ یوه نشه لري.

چې هرڅوک ځانته راکاږې که نه زماپه نظر هم داسمه نه وه، خو زړه نازړه مي ځواب ورکړ.

زه: سمه ده، دا چې تاسو دومره شله یاست، منم!

خو زه درسونه وایم اوبل زما ډیره سختګیره کورنۍ ده، هیڅکله داسي څه نه مني! نوهیله لرم، ته هم زیات مزاهیمت راته ونه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې چې ښځگه تا وويل يوا د يوملگري په صفت د ستونزو کمولو کې به مرسته کوو نور وخت بې ځايه نشم تيرولی!

هغه: بلکل مې همداسي خوښه ده زه هم د دولسم ټولگی زده کوونکی يم درسونه وايم د مور يو زوي يم دوه خويندې لرم نوځکه لږ کارکوم اودرس وايم

زه : ډير ښه خوشاله شوم، خداې مو مور ژوندی لره!

هغه : اوس مونوم ويلاې شي؟

زه : هيله مې نوم دي.

هغه:خوشاله شوم ښکلی نوم دي.

زه:مننه نور دې مخته ښه بايد لږ درس ووايم.

هغه:سمده ډيره مننه دهرڅه لپاره!

موبايل مې کيښوده لږ درس مې ووايه نور ويده شوم دوې ورځې همداسي تيريدې په بله شپه يې بيامسج وکړ

شاهد: سلام

ښځگه ياست

زه :ع سلام ښه يو شکر تاسو مور جانه اوخويندې موښځگه دي

شاهد:شکر ټول ښه دې يواځې مې مورجانه لږ ناروغه ده دعاوې کوه چې ښه شي مور مې راته ډيره گرانه ده

زه: ډيره خفه شوم الله دې ورته عاجله شفاء ورکړي

شاهد: امين ښه درسونه دې ښځگه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه : ډیر ښه دي ولله زماخوښیږي نوځکه راته سخت نه دي**

**شاهد: معلومیږي چي درسونو سره ډیره مینه لري**

**زه :هو ډیره زیاته غواړم زده کړي وکړم دافغانانو خدمتگاره شم**

**شاهد:افرین ویاړو چې داسي افغانانی شته**

**زه: مننه**

**همداسي له لږو خبرو وروسته مو مخه ښه وکړه ورځي او شپې تیریدې څو ورځو کي حتمن هغه مسجونه کول، حال احوال پوښتنه یي کوله، کله کله به یي ټوکي کولې! زماه ورسره ملگرتیا شوه خوهیڅکله مې د ملگرتیانه بغیر کوم بل فکر نه و کړي کله چې به هغه داسې یوڅه ویل نومابه ترینه منعه کوو هغه هم نور پوهیده چي زه یواځي د یو ملگري په نظر ورته گورم نور څه نه همداسي وخت تیریده زما او د هغې د خبرو اووه میاشتي تیري شوي همدي اوو میاشتو کي مو ډیره ښه ملگرتیا وه، هرکله چي به خفه کیدم هغه سره به مي خبري کولي خومانه زیات مسجونه هغه کول څوځلي یي زما دلیدو غوښتنه وکړه دعکسونو غوښتنه وکړه خوماونه منله خوهغه راته کله ناکله خپل عکسونه لیږل ماهم لیدل بیرته به مي ډیلیټ کول همدومره وخت کي یي یوځل زنگ وهلي یواځي موسټړي مشي کړي بس هغه پوهیدي چي کوم کوم وخت کي موبایل ماسره وي نوهم هغه وخت به یي مسج کوه زیاتره وخت به یي ویل چي مور یي ناروغه ده یوه شپه لس بجي وي مسج یي وکړ ډیره**

**خواشیني یي څرگندوله ویل یې:**

**مور مي ډیره ناروغه ده روغتونکې ده او د درملني لپاره یي نوري پیسي هم ورسره ختمي شوي ډیره خفه شوم دعا مي ورته وکړه ومي ویل خپلوانو نه مرسته وغواړه یا یوچانه په قرض واخله هغه وویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زه زیات خپلوان نه لرم که شته هم ټول غریبانان دي او نور راته څوک په قرض پیسي هم نه راکوي زړه مي پري بد شو لږ خبري مو وکړي ورروسته مو مخه ښه وکړه په سبامي فکر وکړ کوم دغوړونو والي چي مي مور راته ماشومتوب کي اخیستي هسي هم زمالپاره دیوانسان دژوند نه زیات ارزښت نلري که چیرته هغه ورکړم شاید لږ مرسته ورسره وکړي داکار مي یواځي دهغه دمور په خاطر کوی ځکه چې مور ډیره ګرانه وي نه مې غوښتل دې نعمت نه څوک بې برخي شي په ماښام مي ورته میسج وکړ هغه هم خفه ښکاریده ورته مي وویل زماسره دغوړونو والي شته دسروزرو دي که هغه خرڅ کړي څه ناڅه مرسته دي کولای شي لومړی کي یي نه منله خوورروسته یي ومنله او وه یي ویل چي سبادرته داخیستلو لپاره مسج کوم په سبایي مسج وکړ زموږ دکور پته یي وغوښته ماهم ورکړ لږ ووسته یي وویل چي هغه ځاي نژدې دی درځم ته هم راووځه او والي درسره راواخله که څه هم دکورنه وتل مشکله وو خو دهغه دمور لپاره مي ومنل څوساعته ورروسته یي مسج وکړ چي ورشم هغه ځای یي راته وښوده زموږ کورنه لس دقیقي پیاده لاره وه هغه ځاي کي ګڼه ګوڼه نه وه ددوکانونو شاه وه ماهم ددي لپاره چې څوک مي ونه ګوري هغه ځای سم وګڼه ورغلم والي مي راواخیستل په ډیري سختی کورنه راووتلم ځکه زموږ کورنی‌نجوني هیڅکله یواځي د بیرون تګ اجازه نه لرله نه هم زه تراوسه وتلي وم نوځکه لړویریدم هم خوورغلم هغه ځاي ته شاوخوا څوک نه ښکاریدل لري موټر ولاړ وو داچې ارنګ یي وکړ پوهه شوم شاهد دي نژدي ورغلم غوښتل مي یواځي والي ورکړم اوبیرته ژر لاړه شم خوهغه دموټر دروازه خلاصه کړه وه یي ویل چې هسي نه څوک مووګوري اوستونزه جوړه نشي ماهم زړه نازړه ومنله او مخ سیټ کي کینستم سترې مشي مي وکړه لومړی ځل یو پردي کس سره یواځې وم ډیره ویریدم هغه هم ښه سترې مشي وکړه دمور دروغتیا پوښتنه مي وکړه ویل ښه نه ده لږ خبري مو وکړي غوښتل مي لاړه شم خوهغه وویل چي نه صبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږدځیښلو لپاره بوتل یا انرژي راواخلم داسي تلل دي بده ده مانه منل خودهغه دډېر ټینګار له وجي مي ومنل هغه ښکته شو زماهم زړه هیڅ ښه نه وو ویل مي کاشکي تللي وم هسي نه مور دوي مي پوهه شي چي کورنه دباندي وتلي یم همدي فکر کي وم چي دموټر دروازې ناڅاپه خلاصي شوي ترڅوچي ورکتل مي چامي په مخ تور څیز واغوستي اوپه خوله یي راته لاس ونیوه بل شانه راته لاسونه وتړل څوڅانیو کي یي موټرشاته سیټ ته وغورځولم خوله یي راته په یوه څه وتړله په سریي تور څیز راواغوستي هرڅومرپوهیږم تاسو به اوه پښي اولاسونه مي وهل خونه مي چیغي وهلي شوي نه تښتیدلاى شوم موټر روان شو یواځي مي اوښکي تویدلي او دخپلي کورنۍ دبدنامي ویره مي په زړه ننوتله ټول بدن مي ریږدیده خو یوهیله مي وه چي کیداي شي شاهد پوهه شوى وي چي زه چاوتښتولم او کورنۍ مي خبره کړي خو دومره پوهیدم چې دري خلک دي یومي یوي خوابل بلي خواته ناست دي یوموټر چلوي هیڅ خبري یي نه دي کړي نه مي دچاغږ اوریدلي

لږ شیبه مي پښي اولاسونه وهل چي هغوي نه یوکس په سر کې په څه ووهلم وروسته په هیڅ نه یم پوهه شوي لکه ویده چې شم یووخت چي په هوش راغلم پوهه شوم اوس هم موټر کي یم نه پوهیدم څومره وخت تیر شوي خوسرنه مي توره کڅوړه ایسته شوي وه یواځي یي راته سترګي په پنډه ټوټه تړلي وي اوخوله مي پلستر شوي وه ساه مي بندیدله اوښکي مي رواني وي نه پوهیدم دي نه وروسته به راسره څه کیږي اوماچیرته بیایي لږ وروسته موټر ودریده دروازي خلاصي شوي یوه کس ویل ښکته شه له اوږې نه یي ونیولم مادمقاومت په ښه لاسونه اوپښي خوځول خوهیڅ ګټه یي نکول په کش کولو یي روانه کړي وم چوپه چوپتیا وه داسي لکه صحرا چي وي یوځل دیوي دروازي غږ شو ننوتلو بیادبلي زه یي کوټي ته پوري وهلم همداسي ولویدم غوښتل مې په زوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوره چيغي ووهم خوخوله مي تړلې وه يواځې مي اوښکي تويدلي راپورته شوم کينستم لږ شيبه وروسته د يوچادپښو ږغ شو يوسړي راغلي ويل سترګې شوي به يي خوږې سترګي به درته خلاصي کړم ځان مي ډير ټول کړ هغه راته نژدي شو لومړي يي لاسونه راته خلاص کړه بيايي پلستر لري کړ اخر کي يي راته سترګو نه پټي لري کړه په سترګو مي تياره وه څه مي نه ليدل لږ مي وموښلي ورو مي لږ خام برق ژيړه رڼا وليدله توره تياره کوټه وه مخي ته مي يوسړي ناست وو اوږده بريتونه يي وه ږيره يي نه وه په رنګ تور وو ژر مي پوري وهي شاته مي ديوال ته ځان ورسوي هغه همداسي له خندا شين شو وايي رشتيا هم مغروره يي شاوخوامي وکتل يواځې يوه بنده دروازه اودکوټې په سر کې يو وړوکی سوری وو نور ټوله زاړه دسيمينټو ديوالونه وه هيڅ دتيښتي لاره نه وه په زوره زوره مي ژړل هغه سړي ماته کتل او خندل يې ومي ويل مانه څه غواړي تاسو څوک ياست ولي موزه دلته راوستلي يم هغه لږ غلی وو وروسته يي ويل پوهه به شي ډير وخت شته دې خبري سره مي په زوره اوچيغو وژړل چي څنګه ډير وخت يعني زه به دلته ترکله يم هغه لږ شيبه وو کله چې يې غوښتل ووځي ومې ويل غواړم اودس وکړم وه يې خندل ويل سمه‌ده په هغه ټوټه دي سترګي وتړه ماڅه ونه کړه خپل راغلی اوټوټه يې واخيستله سترګي يي راته وتړلې او لاس نه يي ونيولم روانه يي کړم لږ لاړم چي دروازه يي خلاصه کړه ويل ورشه هاخوايي کړم دروازه يې بيرته بنده کړه ژر مې سترګي خلاصي کړي ومي کتل داهم د کوټي په څير وو هيڅ کړکۍ نه وه تياره ځاي وو اودس مي وکه دروازه مي ووهله هغه ويل سترګي دي بيرته وتړه مجبوره وم کنه هغه راته خپله تړلې سترګي مي وتړلې خولږه ښکته مي ورته چوله پريښوده هغه چي دروازه خلاصه کړه بيرته يي ټوټه سمه کړه اوهغه کوټې ته يي راوستلم او خپله ووتی دروازه يي بيرته بنده کړه په زوره زوره مي دروازه ووهله خوهيڅ غږنه وو نه هم معلوميدل چي څوک به وي توره کوټه وه له ويري مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدن لاسونه ټول ریږدېدل ساړه مي کیدل پوهه شوم داچي دوي داسي ازاده
وغورځولم نومعلومه ده داسي ځاي دي چي څوک مي غږ نه اوري همداسي دروازي
ته کینستم هرڅومره مي وس کیده ژړل مي له ټولو زیات مي داویل چې کورنۍ به
مي څه فکر کوي خلک اوخپلوان به مي څه څه وایي اوشاهد به څه شوې وي همداسي
مي لوږ سوري ته وکتل ستوري ښکاریدل شپه وه اوښکي مي په مخ رواني وي نور مي
دچیغوتوان نه وو همدي کي شپه تیره شوه سهار شو اسمان تیاره لاړه ورو ورو
رڼاکیدله پوهه شوم ورځ شوه خوهغه خام برق هم هغسي ورو لګیده لږوروسته دپښو
دراتګ غږ شو ژر دروازې نه جګه شوم لاړم دکوټي کونج کي پټه اوټوله کینستم په
همدي ویره کي وم چي اوس به راسره څه څه کیږي دروازي دقید خلاصولو ږغ شو
دروازه خلاصه شوه هم هغه دشپي سړی راغلی یوبل ورسره وو چي بریتونه او ږیره یي
لرله لاس کي یي کڅوړه وه دبازار ډوډي پکي وه راویي غورځوله وایي داوخوره هیڅ
مي نه ویل همداسي غلي ناسته وم دواړه ولاړ وه راته یي کتل لږه شیبه ووته چي بل
سړي راغلی چي وروسي کتل شاهد وو ټول لاسونه اوبدن مي په ریږدیدو شوه خوله
مي بنده شوه هرڅومره مي هڅه کول څه ووایم خوستونی مي نښتی وو هغه نورو
دواړو وخندل شاهد ته وایي یاره ښګه چي یي تاپه اړه ویلي وو هم هغه نه هم زیاته
ده هغه هم ورته وخندل وایي زماټاکنه تل سمه وي اوښکي مي رواني وي هغو درو
واړو راکتل شاهد وویل حیرانه شوي چي ودي لیدم راته نژدي شو زه هم ډیره ټوله
شوم مخي ته راته کینستي وایي وګوره هغه غرور دي څه شو اوس چیرته یي په خبرو
کولو دي هم راته بندیزونه لګول اوس وګوره ټوله زمالاس کي یي غوصي نه نور هیڅ په
توان کي نه وه په مخ مي ورته لاړي وپاشلي پوري مي وهه شاته ولویده ومي ویل
مادرسره څه بدکړي ولي دي داسي راسره وکړل هغه هم بیرته راپورته شو یوټینګه
چپلاخه یي په مخ ووهلم ویل چوپ نور ستابادشاهي نه ده دي نه وروسته به دي هرڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زماپه خوښه کیږې پوهه شوم په زور هیڅ نشم کولی ورته مي زاري شروع کړي ومي ویل پرې مې ږدې تاسو سره ماڅه بد کړي ولي ماسره داسي کوي خودوي ته مي خبري بې معنا وې دري واړه ووتل ماهم په چیغو چیغو خپلې بې وسۍ اوخپلو غلطیو ته ژړل ډیره پښیمانه وم خوڅه نه کیدل

زړه کې مي ویل هغوی ولي زه راتښتولې یم که تیري لپاره وو نووخته به پوهه شوي وم یاخوکیدای سي پلارنه مي پیسې غواړي خوزماپلارخودومره مالداره نه دی څه کیدلای شي اوڅنګه یي زه دې ځایه پوري راوستلې یم هیڅ نه پوهیدم خوهمداسي کینستم وږې هم وم ورو مي هغه ډوډۍ راواخیستله یواځې یوه ډوډۍ وه هغه مي خپلو اوښکو سره خوړل چوپه چوپتیا وه پوهه شوم داکلي یابنار نه دې صحرا ده نه دموټرو نه دخلکو دهیڅاواز نه وو هغوي هم فکر کوم چیرته تللي وه ځکه یي ږغ نه ووهمداسي ورځ تیره شوه نور خونه داډان غږ و نه هم پوهیدم چي څه وخت دی خوعادت سره به مي لمونځونه وکړل ډیري دعاوي مي وکړلې شپه شوه دهغوي غږ شو شاهد دروازه خلاصه کړه راغلی ویل څنګه یې ګراني هوسیله به دي نه وي ختمه شوي هیڅ مي ونه ویل لاس کي یي ډوډي وه هغه یي راته مخي ته وغورځوله او ووته ماهم یواځې یوڅه کولای شوه هغه هم ژړا اواوښکي داچې وږې وم نوډوډۍ مي هم یواځې څومړی وخوړله نوره مي کیښودله لږ شیبه ووتله چي دهغوي په زوره زوره ږغونه راتلل پاڅیدم ورغلم دروازي ته نژدي مي غوږ ونیوه هغوي په یوڅه لانجه وه یوبل سره یي په تېزۍ خبري کولې نور هم نژدي شوم غوږ مې دروازې باندي کیښوده چې سم غږونه واورم یوه ویل بهرني ښه دي بل ویل نه دلته سم دي لږ شیبه وروسته پوهه شوم چې زماپه سر لانجه ده شاهد اوهغه بل غواړي بهرنیو باندي مي خرڅه کړي ځکه زه نجلۍ وم څوک راته نژدي شوی نه وو خوهغه بریتور چي پنډ غږ نه یې پوهه شوم هغه ویل نه دلته مو پري ډیر ښه کاروبار کیږې ټول بدن مي په ریږدیدو شو اوس پوهه شوم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوي کاروبار همدا دی اوهمدي امله يي ماسره زياتى نه وو کړی ځکه چې په ډيرو پيسو خرڅيدم اوښکي مي په مخ رواني وي کورنی هیلي ارمانونه مي ټول خاوري شوه کینستم هغوي هم هغسي په زوره خبري کولي لږ شيبه وروسته دگيلاس دلويدلو په ځير غږ شو هغوي هم چيغي وهلي نه پوهيدم څه وشو خوغږونه ورک شوه ماهم په زوره زوره چيغي وهلي خدای نه مي دعزت مرگ غوښته همدې ځوورځو کي مي يواځې خداي لره چي ورسره مي خبري کولي لوږ مې وکتل ومي ويل چې خدايه پوهيږم ماگناه وکړه خودهغې دومره لويه سزامه راکوه مه پريده چې هغوي راسره داسي ظلم وکړي ياخوزماژوند واخله دې نه مخکي چي زه هره شيبه مړه شم يواځې يوځل مړه کيدل غواړم يوساعت نه وو تير شوی چي بيرته دهغوي غږ شو ژر پاڅيدم فکر مي کوو چې اوس مي حتمن چيرته بيايي خو هغوي دروازه خلاصه کړه شاهد اوبو بوتل راوغوځوي بيرته ووته شپه همداسي تيره شوه زه هم ويده شوي وم چې کله پاڅيدم پوهه شوم سهار دي شايد ناوخته وو ځکه لمر په اسمان ښکاريده يوساعت وروسته دروازه خلاصه شوه هغه بريتور سړی راغلی ژر ژر مي ځان ټول كه کونج کي کينستم هغه راته ډوډي راوړي وه خوومي ليده چي لاس يې پټی وو پوهه شوم شپې دگيلاس غږ دهمدي لامل ووکله چې يي غوښتل ووځې ومي ويل ماسره څه کوی ترڅوبه دلته يو ولي داسي ظلم راسره کوی هرڅومره پيسي غواړي زماپلار يې درکوي خوهيله کوم ماپريدی هغه مخ راواړوه ويل داهرڅه دي خپل له لاسه کيږې نه به دي شاهد سره خبري کولي نه به دلته اوبل يواځې ته نه يي داسي ډيري نجوني ستاپه ځير راغلي اوس غټو غټو سياستمدارانو سره گرځې پيسو کي لوبي کوي نو موږ ظلم نه کوو ښه درسره کوو همدي خبري سره ووته دروازه يي بنده کړه ډير مي وژړل نور مي سترگي له ژړانه وچي شوي وي هيڅ مي توان کي نه وه نوفکر مي وکړ چي يواځې يوه لاره پاتي ده يابه تښتم يابه مي هغوي وژني نه پريدم چي عزت مي خاورو سره يو شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهن کي مي ډير پلانونه جوړ کړه چي داسي به شي داسي به شي خوبيرته به ناهيلې
شوم چي زه يواځې يم هغوي ډير دي زمازور اودهغوي زور نشي کيدلاي خوداورځ هم
په همدي غمونو کي تيره شوه شپه تياره شوه دروازه خلاصه شوه بريتور سړي ويل نور
انتظار ختم شو راځه چيغي مي وهلي هغه راته سترګي وتړلي کله چي يي لاسونه تړل
زاري مي ورته وکړلي چي شاته يي مه تړه لاس مي ډير درد کوي هغه هم مخي خواته
لاسونه راته وتړل خوله يي راته پلستر کړه اوروانه يي کړم پوهه شوم دلته يواځې
داپاتي دي لږ مي زړه کي دتښتي خبره سمه شوه لاس مي ددي په خاطر چي پزه
پاکوم جګ مي که ورو مي دسترګو پټي لږ پورته کړه ومي ليدل صحراپه څير ځاي
دي ډبري دي اودهغه سره برق دي شايدموټر ته تللو ځکه چې راتللو نوموټر اودي
ځاي ترمنځ لږ زياته فاصله وه نوهغه هم ځنګ نه نيولې وم ښه ډاډه روان وو شايد
همدي امله وو چې دژغورلو هيڅ لاره يي نه ليده ماهم کښته کتل پوهه شوم چي
ديوي پولي په څير ځاي دي زړه کي مي خداي نه مرسته وغوښتله دهغه پښوته مي
وکتل په بيړه مي پښه دهغه دپښومخي ته ووهله هغه ولويده ژر مي سترګو پټي لوړه
کړه کله چي يي دپورته کيدو هڅه کوله څنګ ته  مي وکتل لږ لاندي دپاڼ په څير
ځاي وو څومره چي مي ځان کي زور وو هغومره په زور مي هغه ټيل وهه لاندي
ولويده اسمان کي سپوږمی وه خو ډيره رڼا نه وه  يواځې دچاسيوري پکي ليدل کيده
منډه مي شروع کړه شاته مي وکتل هغه کور وو يوي خواته شيلي غوندي وه بلي
خواته لږ ليري باغ وو نو ماهم باغ خواته منډي شروع کړي څومره چي مي توان وو
هغومره منډي مي وهلي شاته مي نه دي کتلي خومطمينه شوم دهغه پښه
دلويدلووخت کې لږ ژوبله شوه کنه ډير ژر به رارسيدلی ووخوماهمداسي منډي وهلي
پښوکي مي هيڅ نه وه ځمکه هم ټولي ډبري وي خوهيڅ په درد نه پوهيدم باغ ته
ورسيدم همداسي مي ونو کي منډي وهلي شاته مي وکتل رڼا لږ هاخوا وه نور مي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



منډه تیزه کړه ونی شنې نه وي پاڼې یي ژړي وي نوځکه هرڅه ښکاریده خوزه هیڅ نه یم دریدلي همداسي مي منډې وهلي ډیر غټ باغ وو ځوځایه مي دسپیواوهمداسي حیوانانو غړونه واوریدل خوکیدای شي الله هم ماسره وو زمامرسته یي کوله ځکه خومخي ته مي هیڅ حیوان نه دی راغلی کله چي تریوځایه لاړم نور مي ساه نشوه ایستلای شاته مي وکتل هیڅ رڼا نه وه خوزړه کې مي ویره وه چې هسي نه راپسي راورسیږي بیرته روانه شوم خوبیامي وویل که هغوي په بله لاره مخي ته راغلي وي ودریدم دوه زړه کې شوم چي لاړه شم که ودریږم خوورو ورو روانه شوم یوځاي کي مي پښې په لندو خټو کي ولګیدي

ځان سره مې وویل باران خونه دی شوي نوحتمن دلته نژدي څوک شته چي داباغ ته یي اوبه ورکړي خو کیدای شي هغوي هم ددوي په څیر وي اخر کې مي خدای نه مرسته وغوښته همداسي روانه شوم خوداباغ دومره غټ وو چي هرڅومره تلم پای یي نه وو څوساعته مي په تګ تیر کړي وه پښو مي له یخه او درده نور حرکت نشو کولای نوځکه مي یوي وني ته تکیه وکړه کینستم لاسونه مي ډیر ټینګ تړل شوي وه په غاښونو مې هڅه وکړه خوداچې تیاره وه څه مي نشوه کولای لاسونه مي هم هغسي تړلي وه ځان مې ډیر درد شروع کړ ډیر مي ساړه کیدل اوښکي مي تویدلي له یوي خوا دهغوي ویره دبلي خوا د دحیوانانو ویره وه بیرته به پورته شوم بیابه مي لږ مزل وکړ بیاچي به مي نور توان نه ووتله بیابه لږ کینستم خو همدي کې سهار خوا کیدله تیاره تلله رڼا کیدله یوي خوانه خوشاله کیدم چې رڼا شي بلي خوانه مي زړه بدوو هسي نه هغوي شاوخوا راته ولاړ وي خو لږ بیالاړم کله مي چي وکتل شاوخواډیري وني ولاړي دي اوداوبو ږغ دي زړه مي ودریده فکرمي وکه چې هغوي به وي شاوخوامي وکتل یوي خواته غونډ بوټي ولاړ وه په کراره لاړم هلته دهغو شاته پټه شوم ټول بدن

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي لړزيده په خوله مي لاسونه ټينګ نيولي وه داوخت كي دسهارخواكيدله غږ غلی
شو ورو مي وروكتل يوسپين ږيری سړي لاس اومخ وچوي داسي ښكاريدل لكه اودس
چې يې كړی وو لږ مي زړه په ځاي شو چي هغوي نه دي خوهيځ مي ورته ږغ ونه كه
هغه سړی روان شو زه هم ورو ورو پسي روانه شوم چې لږ لاړه نويودختهو زوړ كور
ښكاره شو سړی هغه كورته ننوته دكور مخي ته سپی تړل شوی وو زه هم هلته لږ لري
كينستم پټ پټ مي كتل ترڅوپوهه شم څوک شته كه نه لږه شيبه ووته يو هلک راووته
لاس كي يي داوبو لوښی وو معلوميده چي اودس لپاره راوتلی لږ هاخواكينسته اودس
يي وكړ داوخت كي مي نور له دردده طاقت نشو كولاي دومره ساړه مي كيدل چي
دواړي زامي مي يوبل سره لګيدلي لږ نژدي ورغلم ومي ويل وروره دلته ښځي شته
?كله چي هغه راته وكتل همداسي يي كتل هيڅ يي نه ويل بيامي وويل مور ياخور
لري دلته شته سر يي دهو په ښه وخوځوي په زوره يي غږ كړه ويل موري هله راشه
داڅوک ده بيايي غږ كړه لږ شيبه وروسته هغه سپين ږيری او يوه دعمرنه پخه ښځه
راوتله كله چې يې ماته وكتل ټول حيران وه هيڅ يي نه ويل ملامت نه وه ځكه چي
زمالاسونه تړلي وه څادر مي نه وو پښي مي لوڅي وي ورو مي وويل مرسته راسره
وكړي ښځه ژر زماخواته راغله وي ويل څوک يي اودلته څنګه راغلي يي هيڅ مي نشوه
ويلاي يواځي مي اوښكي تويدلي ښځي زوي ته مخ واړوه ويل هله هلكه ورشه يوڅادر
راوړه ماته يي ويل راځه لوري هيڅ مه ويريږه موږ مسلمانان يو دې وخت كي هلک
څادر راوړ ښځي راته په سر واچوي ژر يي لاس نه ونيولم كورته يي بوتلم سپين ږيري
ږغ شو ويل هلی بوتي بخاری ته واچوی كوټه ګرمه كړي ښځي ته مي لاس ونيوه هغه
پوهه شوه لاسونو په خلاصولو بوخته شوه لږ شيبه وروسته يي راته لاسونه خلاص كړه
ماهم ژر څادركي ځان سم ټول كړ هغوي راته دبخاری څنګ كي ځاي سم كړ ويل
دلته كينه چې ډير ساړه دي شوي زه هم كينستم دوي نجوني په كار اخته شوي بستري

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د هيلې ژوند**

**يي ټولولي يو هغه هلک اوبل هغه نه وړوکی هلک ناست وه ټولو سترگي ماکې ښخي کړي وي لږ وروسته مي ساړه ختميدل هغوي راته ژر چاي گيلاسونو کي واچوو سپين ږيري سړی ويل لوري داوڅکه چي ځان دي گرم شي هغه مي وڅکه همدي سره يوسات ياشايد لږ زيات وخت تير شوی وي نجوني هم کينستلي چوپ چوپتيا وه اخر کې سپين ږيري سړي وويل لوري تاسره څه شوي که کولای شي نومونږ ته ووايه هسي نه دلته هم خطر سره مخ شي لږ شيبه ووتله غلې وم وروسته مي له اول نه تراخره ټوله کيسه ورته وکړه زمادسلگيو سره سره دهغوي اوښکي هم دباران په څېر بهيدلې هغوي ته يي ډيري ښيراوي وکړي ومي ويل داکوم ځاي دي هغوي راته دځاي نوم واخيسته پوهه شوم زمونږ دکورونو څخه ډير ليري دي ځکه خو يي نوم هم راته ناشنا وو هغوي هم زمونږ ځاي نه پيژندی ورته ومي ويل تاسو موبايل لرئ هغوي ويل هو ماويل زمامي دپلار شميره په ياد ده که کولای شئ هغوته زنگ ووهی هغوي هم خوشاله شوه ژر يې موبايل راوړ ماهم په دماغ زور راوسته خوښه وو شميره مي نه وه هيره شوي هغوي ډايله کړه لږ شيبه وروسته زنگ ورغي زړه مي په درزا شوهمدي فکر کې وم چي هغوي به څه حال کي وي لږ وروسته مي دپلار غږ شو سلام په ويلو سره سپين ږېري سړي ورسره تړي مشي وکړه اخر کي يي ورته وويل چې ستاسو لور چاتښتولي وه په ډيرو ستونزو تردې ځايه راغلي کولای شي راشي ستاسو ترراتگه به دازمونږ سره امانت وي پلار مي ويل ته موبايل ورکړه لور ته مي داسي لکه باور چي نکوي کله مي چي سلام وايه نوپه چيغو چيغو مي ژړل هغوي هم پوهه شوه زه يم بيرته مي سپين ږېري ته موبايل ورکه هغه ورته دځاي پته وويل وروسته پوهه شو چي دي ځاي نه زمونږ ترکورپوري څلور ساعته لاره ده ټولو زماله امله ويره لرله چي هغه بيارانشي هغه ښځي راته دوي د درد گولی راکړي خوداڅو ساعته په سختي تير شوه همداسي هرساعت مي پلار اوسپين ژيري سړی خبري کولي دلاري اوکور ښودلو لپاره يوخت دوه موټره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورسيدل پلار مي اکاګان داکازامن ټول پکي وه کله چي مي پلار وليده په منډه ورغلم غيږ کي يي ولويدم په زوره زوره مي ژړل ټول خفه ولاړ وه پلار مي هم ژړل وروسته مي خداي په اماني وکړه هغوي نه مي ډيره مننه وکړه او راروان شو کورته لاره کي هيچاهم خبري نه دي کړي همداسي ټول غلي وه زه هم نوره خوشاله وم چي وژغورل شوم خو چې پلار کورنۍ اوپاتي شوي ژوند ته به مي فکرشو بيرته به مي خوشالي پاي ته ورسيده چي هغوي به څه ووايي څه به وشي خو مزل مو وکه راورسيدو کورته ټول ښکته شوه زه هم ښکته شوم ماشومان خويندي اوورونه مي مخي ته رامنډه کړل ټول مي غيږ کي نيول او په چيغومي ورسره ژړل هغوي هم ټولو ژړل مور مي مخي ته راغله غيږ کي يي ونيولم ډير يي راسره وژړل کوټې ته ورغلو خور مې داکاګانو ښځي مي وي خاله ګاني مي وي ټولو غيږ کي نيولم اوژړاوي وي خو ټول کينستو هيڅ خبري نه وي يواځي اوښکي وي چي ټولو راسره توييولي مور مي راته ډوډي راوړه يواځي څومړي مي وخوړه پښي مي ټولي زخمي شوي وي مور چي مي کله پښي وليدلي هغو ظالمانوته يي ډيري بددعاوي وکړلي ولاړه شوه کريم يي راواخيسته پښې يي راته غوړي کړي همداسي يواځي ښځي ناستي وو خوټولو داسي عجيبه کتل ګاونډيانوښځي هم راغلې چاڅه ويل چاڅه همدي کي شپه شوه نارينه جلاناست وه ښځي جلاکوټه کي پلار مي وغوښتلم کوټي ته پوهيدم چې ولي مي غواړي خوبايد حقيقت  سره مخامخ شوي وم نوځکه ورغلم اکاګان داکازامن نور نژدي خپلوان موناست وه پلار مي رانه وغوښتل له سره ټوله کيسه وکړم ماهم بله چاره نه وه ټول هرڅه مي ورته وويل ټولو راته په يوډول کرکه کتل چابه راته غوصه کول چاڅه ويل خوداچې ملامتيا اوګناه زماخپله وه نوماهم څه نه ويل غلي ناسته وم وروسته مي پلار ويل تللای شې زه هم راغلم ډيره ستړي وم مورته مي وويل چي ويديږم هغي راته ځاي سم که ځاي کي مي ښه ډيري اوښکي توي کړلي همدي ژړاکي ويده شوي وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار لمونځ لپاره مي مور راباندي ږغ وکړ پورته شوم لمونځ مي وکړ ډیر په سختي په لاره تللم ځکه پښي مي پړسیدلي اوزخمي شوي وي وروسته مي خپلي الماری نه کالي راواخیستل هرڅه هم هغسي پراته وه لاړم ومي لامبل کالي مي واغوستل داورځ هم داسي دخلکو اوښځوپه تګ راتګ ختمه شوه ټولو راته یوډول په بده سترګه کتل خوماڅه نه ویل په سبامي پلارمورته ویل نن میلمانه راځي شیان سم کړه ماهم څه ونه ویل کوټي نه ووتلم لږ شیبه وروسته مي دمور ژړا او خبري شوي ژر راغلم چي څه شوي خومورمي پلارته زاري کولي چي داسي ونه کړي هغه ویل بله لاره نشته زمادورتګ سره مي پلار ووته مورته مي ویل څه خبره ده څه شوي هغې ویل غواړي تایوسپین ږیري سړي ته ورکړي په هم هغه ځاي مي په سترګوتیاره شوه ولویدم وروسته لږ په هوش راغلم مورمي راته اوبه راکولي ژر پورته شوم مورته مي زاري شروع کړي ومي ویل چي داسي مه کوي مامي خپله سزالیدلي نوربس دي مور مي هم ژړل غیږ کي یي نیولي وم لږ شیبه وروسته خلک راغلل ټول خلک حجره کي ناست وه مور مي ځوځلي پلارته خواستونه وکړه خوټولو اکاګانو مي پلار راضي کړی وو دمور خبرو مي پري هیڅ تاثیر نه کوو ماهم په کوټه کي په چیغو چیغو ژړل فکر مي کوو سختي ورځي ختمي شوي خو هیڅ نه وه ختم شوي یوساعت وروسته ډزي وشوي هغوي باندي یي زه خرڅه کړم هغوي لاړه پلار مي کورته راغلی مور مي ورسره جنګ وکړ پلار مي هم دخپلي بدنامی لامل ما اومور ګڼلو چې سمه لور یي نه وه روزلي څه مي نشوه ویلاي نه مي ځان وژنه کولای شوه ځکه چې دانړی خومي هسي هم ټوله تباه شوه هغه نړی مي نه شوه خرابولای څوورځي تیري شوي پوهه شوم هغه دزیات عمر سپین ږیری سړی دي کوچیان دي بله ښځه هم لري خوپیسی زیاتي لري ځکه خو یي واده هم لسوورځوکي کوو کور هرڅه هغوي خپله تیارول نور راته هیڅ اوښکي نه وي پاتي هیچاسره مي خبري نه کولي یواځي به کینستم ټولي هیلي مي خاورو سر یوشوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان او هرچانه مي كركه كيدله لس ورځي تيري شوي واده دهغوي كوركي جوړ شوی وو ديوبت په څير يي كينولم كالي اوهرڅه يي راته واغوستل ديوي كونډې په څير يي كورنه ويستلم شپي ته هم واده شروع وو ټولو غټ غټ كميسونه اغوستي وه ژبه يي هم زموږ ژبي نه جلا وه مور خور داكابنځي مي راسره لاړي ډوډۍ هرڅه ختم شوه زه يي كوټي ته وروستلم نوي شيان وه پوهه شوم همدا زما دوزخ دي لږ وروسته غټ په عمرپوخ سپين ږيری سړی راغلی كوټي ته مور اوخور مي اوښكي تويولي ټولو په حيرانۍ كتل زه هم ديوجسد په څير غلي ناسته وم خپل د نړيدلي ژوند نندارہ مي كوله ښځي يوه په بلي پسي وتلي كله مي چي مور وتله ټينگه مي لمني نه ونيوله په چيغوچيغومي ژړل اوويل مي چي مادې ځای نه بوځي زارۍ مي كولي ورته خومور اوخور مي هيڅ نشوه كولاي هغوي هم راسره په چيغوژړل ټولي ښځي اونجوني راټولي شوي وي سړی په غوصه ټولو ته څه وويل اوويي ايستلي موراوخور مي هم زمالاس په سختي خپلي لمني نه خلاص كړ او ووتلي سپين ږيری جگ شوه دروازه يي وتړله زه هم ژر شاته كونج كي ټوله كينستم ددي شپي او هغه شپي چي تښتول شوي وم هيڅ توپير نكيده سړی زماخواته راته زه هم ټوليدم كله چي راته نژدي كيده ومي ويل مه نژدي كيږه مانه ليري اوسه سړي وخندل ويل مه ويريږه زه درته تاوان نه رسوم كله چي يي لاس راوړه لاس مي پوري وهه ماويل لاس مه راوړه ليري شه سړی لږ شيبه غلی ناست وو ويل جگه شه ځاي سم كړه هيڅ مي ونه ويل سړی جگ شو غوښتل يي په زوره مي جگه كړي ماورنه لاسونه كش كړه هغه مي شاته پوري وهه ونه لويده خو راغلي څو چپلاخي يي ووهلم ژړل مي خوهغه په زوره جگولم ماهم دهغه لاس ځان ته نه پريښوده وروسته سړی ستړی شوو ښه ډيره يي ووهلم په مخ په سر لاسونو پزه ميويني شوه دواده زرغوني جامي مي په سروونيو ولړل شوي وروسته هغه لاړ ځاي كي ويده شو ماهم داشپه بياپه غمونو او اوښكوتيره كړه ځان مي خوږيده سهاره پوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینبه ناسته وم هغه هم ویده ووهغه ته په کتلو مي هم کرکه کوله اذان وشو دباندي دڅونبڅو ږغ شو هغه هم جګ شویوځل يي راوکتل بیالاړ کوټي نه ووته لږ شیبه نه وه تیره شوي چې مور مي راغله کله چي يي زماحالت ولیده اوښکو يي په مخ رودونه جوړ کړ زماسر يي خپله سینه پوري نیولي وو هغه سړي پلار اواکاګانو ته مي يي ښيراوي کولي لږ وروسته مي خور راغله هغي هم ژړل درو واړومو دبې وسی اوښکي تویولي وروسته مي خور لاس نه ونیولم تشناب ته يي وروستلم مخ اولاسونه يي راته ومينځل کله مي چي هنداري ته وکتل نو څیرې مي ډیرتغیر کړی وو داسي لکه یوبل څوک چي اوسم همداسي دوي شپي نوري هم په داسي وهلو کې تیري شوي په دریمه ورځ مي مور دوي تلل مور مي راته دزړه له زوره نصیحت کاوه ویل نور دي همدا ژوند دي دادي کور دی خپل تقدیر ومنه اوځان سره ظلم مه کوه هغوي لاړې زه يي هم دیوي زخمي مرغی په څیر وغورځولم ټوله ورځ مي په ژړاتیره کړه شپي پوري مي فکر وکړ مورمي رشتیا وایي نور مي همداژونددی شپې مي هم دیوبې روح جسدپه څیر هرڅه ومنل خپل تقدیر ته تسلیمه شوم خوترسهاره به مي په اوښکو بالښت لوند کړی وو څوورځي نوري تیري شوي هیچاسره مي خبري نکولي دیوي ګونګی په څیر شوي وم تل به یواځي کوټه کي کینستم کله کله به مي مور سره څوخبري کولي

موربه مي هم راته ډاډ راکوه چي خداي شته دهغه سړي یوزوي وو مانه په عمر لږ غټ وو نوم يي احمد وو ډیر ښه انسان وو زمایې ډیر خیال ساته کله کله به راته او دخپلو رواجونو کیسي به يې راته کولي داچې زه لږ وخاندم نوتل به يې ټوکي راته کولي ماهم ورسره کله کله دخپلو درسونو اوهیلو په اړه خبري کولي هغه هم ښوونځی ویله لسم ټولګي نه فارغه شوی وو یولسم ټولګي کي وو دواده دري میاشتي تیري شوي یوه ورځ يي موبایل کي ګوتي وهلي زه يي شاته ناسته وم چي ناڅاپه مي دشاهد عکس

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي سترګي ولګیدي په بیړه مي ترینه موبایل واخیسته سم مي وکته هم هغه وو ژر مي ایډي وکتله په بل نوم یي جوړه کړي وه څونجوني اوهلکان ورسره ملګري وه لاسونه مي ریږدیدل احمد په حیرانتیا راته کتل کله مي چې وکتل څوک نه وو هغه ته مي وویل داهغه سړی دی چې زماژوندیي تباه که هغه هم ژرموبایل واخیستي وه یي کته ویل څنګه کیدای شي داخوماسره ډیر وخت نه فرینډ دی اوښه تعلیم افته ځوان ښکاري ومي ویل هو که داسي نه وو ولي به زماپه څیر نجوني تیرایستل کیدلي خودواړه چوپ کیناستلو مور یي راغله هغه هم جګ شو زه لاړم کوټي ته ډیر مي وژړل خووروسته مي زهن کي راغلل چې هغه سړي ویلي وو چي یواځې ته نه یي ډیري نجوني دلته راغلي یعني هغه اوس هم داکار کوي نجوني تیرباسي نه زماخوژوندهسي هم دوزخ جوړ شوی خودهغه سزابايد ورکول شي بایدنور ددي کارمخه ونیول شي لږ وروسته ورغلم احمدمي راوغوښته خپلي کوټي ته هغه ته مي ویل یوڅه درته وایم خوقسم راسر وکړه چې مني به دخیر کار دی شاید دخداي هم خوښه وي هغه دلږ ځنډوروسته ومنله وروسته مي ورته وویل چي ده ته به سزاورکوو نوري نجوني به له دې عذاب نه ژغورو ویل څنګه پلان موجوړ کړ چې دهغه سره دنجلي په نوم خبري وکړو وروسته به بیاګورو هغه هم په سختۍ ومنله خوومي ویل چي یوه بله پخوانۍ ایډي پیداکړه چې دنجلی وي ترڅوشک ونه کړي هغه هم داسي وکړه مسجونه یي ورسره پیل کړه ډیر ژر صمیمي شوه ځکه چې دادهغه دنده وه خبرو کې ډیر ماهره وو خوداځل مودملګرتیا نه دمیني اړیکه جوړه شوه احمدبه ورسره مسچونه کول کله ناکله به یي بیاهرڅه راته ویل همداسي وخت تیریده احمدنور دداسی میني له خبرونه تنګ راغلی وو خوزماپه ډیر ټینګاربه بیرته راضي شو احمدورته دنیټ نه دیوي نجلی څوعکسونه په ډیر زحمت پیداکړي وه هغه یي لیږلي وه هغه هم ورسره دمیني ګرمه اړیکه جوړه کړي وه دوي میاشتي تیري شوي وي یوه ورځ احمدوویل چي هغه غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماله نژدي نه مخامخ وګوري ډېر ټينګار کوي ماهم احمدته نورپلان وښوده زمادپلار يو ملګری وو هغه پوليسو کې قومندان و نوهروخت به زموږ کورته راته مابه ورته چاي راوړلي نوډېره ښه يې پيژندلم احمد ته مي وويل چي دهغه شميره مي پلارنه واخله ووايه چي يوملګری مي ستونزه لري هغه همداسي وکړه شميره موواخيسته اوزنګ مو ورته ووهه لومړی احمد خبري وکړي بياماسمدلاسه يې وپيژندم ډېره ښه پوښتنه يې وکړه وروسته مي ټوله کيسه ورته وکړه هغه ويل نواوس به څه کيږي ماويل که تاسو مرسته وکړي هغه غواړي بياداسي وکړي لکه مخکي چي ماسره کړي وو نوهم هغه وخت به يې تاسو ونيسي هغه ويل اوس خونه کيږي داوړه خبره نده خوزه درته بيازنګ وهم ماهم ومنله څوورځي وروسته احمدموبايل راوړ ويل پوليس کاکا دي زنګ وهلي کله چي مي ورسره ستړي مشي وکړه هغه وويل چې تاسو ښه پلان جوړ کړی موږ مشوره کړي مرسته کوو خوبايدډېرپام وساتو چې کومه بده پېښه ونشي ما هم ويل سمده ده زه احمد پوليس کاکا دري واړه اړيکه کي شوو ما او احمدداشاهد هرڅه پوليس سره شريکول هغه هم راته ځاي اوهرڅه پلان ښوده

دوي ورځي وروسته دليدني ورځ شوه داهرڅه موځکه کولاي شوه ځکه چې داحمدپلار سهارتلی او ماشام کورته راتلی داحمدمورهم مانه کرکه کوله ماسره هيڅ نه کينستله نوځکه هرڅه موهوسا کولای شوه خو زړه کي مي هم ويره وه هم خوشالي زماژونديواځي يوقيامت وو چي تيريده داسي کس سره مي ژوندکوی چې زمادنيکه په عمر وو هغه ته په ليدلو مي زړه بديده خومجبوريت ورسره يوتخت کي ويدولم هره شپه به ديو بي روحه جسدپه څير وم او ورځ به مي په خپلو غمونو او بې وسيو په ژړا تيريدله داژوند نه يودوزخ اوعذاب وو داهرڅه دهغه شاهدله امله وه نوځکه خوشاله وم چې هغه هم زماپه څير عذاب وګوري او زماپه څېر ساده او بې ګناه نجونو ژوند نور تباه نشي په هرحال سهار وو پوليس کاکا ويل ته به خامخا راځي حجاب کي ځکه که

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاونه ګوري کیدای شي پوهه شي نوماهم ومنله احمدماسره تلی که څه هم هرڅومره مي وویل چي مه ځه هسي نه په تاڅه وشي خوهغه نه منله ډیر غیرتمن هلک وو موږ دواړه کورنه پټ ووتلو روان شو خوداځل دمخکي په څیر دشاهد دمرستي نه بلکي دهغه دسزالپاره وو ورغلو هغه ځای ته پولیس کاکا هم وو دلیري مو ولیدل زنګونه مو وهلي وو یوبل سره موخبري کولي احمد لږ لیري ولاړ وو پولیس هم ساده جامو کي وه هیچانه پیژندل غوښتل مي احمد سره لږ خبري وکړم ورغلم داځل موهم داسي ځای ټاکلی وو چي څوک نه وه

احمد : هیله راغله هیڅ نه ویریدله ډیره زړه وره اوپاکه نجلی وه ځکه خوماهرڅه ورسره ومنل هغي راته یوه کتابچه راکړه ویل که کورته لاړو بیرته به یي راکړي که نه بیابه یي ته پوره کړي ورروسته خپله پوهیږې حیران شوم په خبره یي پوهه نشوم خوهغه بیرته خپل ځای ته لاړه وخت ډیر په سختي تیریده نیم ساعت وخت تیرشو چي موټر راغلی ودریده داچي هیلي ډیرپټ حجاب کړی وو نوچانه پیژنده لږ ورنژدي شوه کله چې مي موټر ته سم وکتل بل څوک نه پخپله شاهد وو دسترګونه مي ورته اورونه غورځیدل ډیرورته غوصه وم خوهیلي هغه ته ځان داسي ښکاره کړ چي هغه دمسجونونجلۍ ده هغه هم دموټر دروازه خلاصه کړه هیلې لومړی شاوخوا وکتل داسي لکه ویریدلي چي وي خوکله یې چې موږ ولیدلو زړه یي ډاډه شو موټرته وخته هغوی ترمنځ خبري کیدلي دهغي سره یوموبایل وو چي پولیس ورکړی وو نوموږ ټولو یي خبري اوریدلي هغه ورته دحجاب لري کولو وویل دمیني خبري یي شروع کړي خوهیلي حجاب لري نه که همداسي یي خبري ورو ورو کولي خوداځل شاهد نه وو ښکته شوی چي دوه خلک راغلل یو یې تور مخي وو یوبل هم ورسره وو کله چي یي غوښتل موټر ته وخیژي پولیس ټولو ته اشاره وکړه هیلي ژردروازه خلاصه کړه شاوخوانه څلور پولیس راټول شوه وسلې یي ورباندي ونیولي هیله هم په منډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپولیس کاکا خواته ورغله زه لړ شاته پټ ځاي کي ولاړ وم پولیسو هغوي ته دتسلیم
چیغي وهلي هغوي هم لاسونه جگ کړه خوشاهد موټر کي وو نه کښته کیدي پولیسو
ځوځلي دتسلیمیدو وویل خوهغه ناست و اخرپولیسو ویل که ښکته نشې ډزي کوو
نوهغه هم لاسونه لوړ کړي وه ورو موټر نه ښکته شو پولیس ورو ورو ورنژدي کیدل چي
ناڅاپه شاهد مخي ته رامنډي کړي پرپولیس کاکا یي وسله ونیوله ویل لیري شي که نه
داوژنم هیله  دپولیس کاکا څنگ ته ولاړه وه پولیسو هغه دوه نیولي وه خوشاهد
دپولیس کاکا سرته وسله نیولي وه غوښتل یي وتښتي خوپولیسو وسلې نه ایښودي کله
چي پولیس کاکا غوښتل ډز وکړی شاهد ماشي ته گوته وروړه ډز شو کله مي چې یوبل
ته وکتل شاهد په وینو لړلي پروت وو خوشاله شوم خوچې پولیس کاکا اوهیلي خواته
مي وکتل هیله په وینو کي پرته وه پوهه شوم چي هیله دپولیس کاکا مخي ته دریدلې
او مرمی په هغې لگیدلې پولیس کاکا هم ولاړ وو ټولو رامنډي کړي  هغه خلکو لاسونه
یي شاته تړلي وه دپولیسو موټر ته یي پورته کړه ماوپولیس کاکا په هیلي غږونه کول
مخ مي ترینه لوڅ که لا ژوندی وه همداسي یي کتل وړه موسکایي وکړه او سترگي یي
پټي شوي پولیس کاکا چې یي کله لاس وکته نوپوهه شوم  چې هیله نور ژوندی نه ده
ماوپولیس کاکا دواړو اوښکي تویولي امبولانس راغلي هیله یي پورته کړه زه هم
حیران وم چي څنگه مي پلارته ووایم خو زماپه ځاي پولیس کاکا مي پلار او دهیلي
پلارته زنگ ووهه هغوي یي خبر کړه پولیس کاکا وویل چې ته په هیڅ نه یي خبر همدا
دهیلي غوښتنه وه چې پلار دوي دي پوهه نشي ته هغې سره دي پیښه کي وي هسي
نه ستااوپلار ترمنځ دي جنجال جوړ نشي ماهم ومنله دهیلي کورنی اوزماپلار دوي
ټول  راغلل دپولیسو تهانې ته ټولو نه مي دهیلي دظلمونو په خاطر کرکه کیدله هغه
بې گناه وه دوي  ټول دهغې مجرمین دي لومړی شاهد چي خپله سزا یي ولیدله بیا
دهغې خپله  کورنی اوزما پلار چې دهغې ژوند یي ورته په دوزخ بدل کړی وو څکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هیلې ژوند

خوهغه دمرګ په وخت کي په خندا ولاړه ځکه چې ژوند هغي سره ډیر ظلمونه وکړه هیله مو خاورو ته وسپارل څو ورځي تیري شوي ډیر خلک فاتحي ته راغلل ډول ډول مجلسونه کېدل دهیلي مور اوخور ډیر ژړل د هغوي په دردډیر ښه پوهیدم ځکه چي هغوي هم پوهیدلې چې هیله بې ګناه وه دهیلي پلار هم ډیر کمزوری شوی وو شاید اوس ډیر پښیمانه وو خوهیڅ ګټه یي نه کوله هیله نوره ژوندی نه وه هرڅه ختم شوه دهیلي کورنی هم نور نه راتلله زموږ کور هم نور عادي وو چاهیله نه یادوله یواځي زماډیره یادیدله هغه مي دخور په څیر راته ګرانه وه څوورځي وروسته مې دهیلې کتابچه یاد ته راغلل کله مي چې ولوستله همدا دژوند کیسه یي وه چي نوره برخه یي ما ولیکه اوس پوهه شوم چي دهغي مطلب څه وو هیله زماپه نظر یوه اتله وه چې دداسي ظالمانو له منګولو نه خوشي شوه پرته له ګناه نه یي سزاولیدله او دډیرو بې ګناه نجونو ژوند یي وژغورلو خپل ژوند یي دانسانیت لپاره قربان که

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**